محمد هارون خپل شعشعي


۰۳ اکتبر ۲۰۱۱

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۱۲

**۲۴- تَغابُن ، يوم التَّغابُن :**

تغابن ( د « ت » په زْوَر او د « ب » به پيښ) له لغوي پلوه، په معامله کي يو او بل ته د زيان رسولو، خطأايستلو، تېر ايستلو، پښېماني، ارمان او افسوس، په مانا دئ[۱] . په عرفاني آثارو کي، دا ټکی زياتره د « يوم التغابن » په بڼه کارېږ ي، چي موخه او مقصد يي، د حساب يا قيامت ورځ ده . د قرآن کريم څلورشپېتمه سوره، د تغابُن د سورې په نامه يادېږي . د دې سورې د نم ( نهم) آيت په يوه برخه کي راغلي دي : « يوم يجمعکم ليوم الجمع ذالک يوم التغابن . . . » ياني هغه ورځ، چي الله تعالی تاسي د غونډي د ورځي ( قيامت) دپاره سره را ټول کړي، دا ورځ به ستاسي په منځ کي، د دوه اړخيزي ګټي او زيان ورځ يي (وي).

عبدالله يوسف علي، د سپېڅلي قرآن د تغابن دسورې د همدې مبارک آيت په تفسير کي ليکي : « لکه څنګه چي د تغابن دسورې له نامه څخه ښکاري، د قيامت ورځ به د متقابلي ګټي اوتاوان ورځ يي . هغه کسان به د خدای تعالی په جنتو کي، ځانونه نېستمن او فقير وګوري، چي ګومان يي کاوه په دونيا کي يي پانګه ورته زېرمه کوله؛ او هغه کسان به د خپلو خواريو نتيجه بې ګټي وګوري، چي په حقيقت کي يي بدو کارو ته يي ملاوي تړلي وې؛ خو ګومان يي کاوه، چي نېکي کيږي؛ د دوی پر خلاف، د دې نړی ببوزلي او ترټلي به په هغه جهان کي، د پت او وياړ خاوندان يي . د دې جهان تحقير سوي او رنځېدلي نېک عمله به د هغه دونيا له منل سوو او خوشاله کسانو څخه يي[۲]. »

د عارفانو په اند به، هر څوک په دې ورځ ، د ندامت او پښېمانۍ، تېروتني اوغولېدني ناري وهي . بدان به له دې ژاړي، چي ولي يې په ژوند کي له بدييو او ناروا کارو لاس نه و اخيستئ؛ نېکان به له دې امله ځانونه ملامتيي، چي ولي يې د حق تعالی په مينه او شُکرانه کي، د نېکي تله دونه سپکه ده؛ او ولي يې دخېر، نېکی او عرفان په لار کي تر دې هم ډېره مرانه او چالاکي نه ده کړې .

علي محمد مخلص، د قيامت په ورځ د زيان او ارمان، غولېدني او تېروتني همدې عارفانه مسألي ته، داسي اشاره کړې ده :

بل دوهم منزل قيـام د قيـامت دئ
په دغه ورځ ندامت هم ډېر حســـرت شته
نېک وبد به کُل ارمان که په حشر کښي
د هر کس په خپل عمل کي ندامت شته
کُل نېکان به د نېکی پــه تقصير ژاړي
د بدانو په بدی ډېر ملا مــت شتــه
دغه ورځ دتغابن، زيــان به خپل گوري
د سړي، پېري په کښي ډېر خجـــا لت شته
چي ميزان د عدل راوړي په ميــدان کښي
په حساب کتاب دډېر عا لَــم آفت شته

د نور مالومات دپاره وگورئ : مبدأ او معاد، د کايناتو او انسان د پيداينت نظريه، تخلقو باخلاق الله، جمع او جمع الجمع ، فنأ او بقأ، موتوا قبل ان تموت، هستي او نېستي، عرفان او معرفت .

**لمنليکونه**

۱ عميد ۱: ۷۰۰ .

2 The Holy Qur'an 1557 .

### ۲۵- تقليد او تحقيق :

د تقليد او تحقيق اصطلاحات، پر نورو علومو سربېره ، په اسلامي تصوف او عرفان کي هم خورا ډېر کاريږي . له دې امله، بې ګټي نه ده، چي له عرفاني زاويې څخه، پر دې دوو اصطلاحو څه نا څه رڼا واچوو.

د تقليدعربي ټکی په لغت کي، دود، رواج، باب، جال، په غاړه کي طوق اچولو، د يوه کار يا ژمني پرغاړه اخيستلو، پيښو، د نورو پر پله تګ، په پټو سترګو د نورو د نظريو او دلايلو منلو، په شرعي چاروکي د نورو پيروی اوداسي نورو ته وايي[1] . د تحقيق عربي ټکی، په لغت کي د څېړني، سپړني، ګرويږني، شنني، پلټني، اغېزې ، تأييد، پېژندلو، سم والي، دقت، ژوري پاملرني، تشخيص کولو، مالومولو، تطبيق کولو، اجراکولو، ترسره کولو، حقيقت څرګندولو او داسي نورو په ماناوو راغلئ دئ[2] .

په نوروعلومو کي، د تقليد ښتنتن هغه څوک دي، چي هر څه ته په سرسري او سربېرن نظر ګوري؛ د حقيقتو د څرګندولو دپاره د نورو پر لار روان يي (وي)؛ د سم او ناسم مالومولو په مقصد د پلټني او څېړني زيار نباسي . له دې اسيته په خپلو سطحي کوښښو سره د پوهي په پرمختګ او بشپړتيا کي ارزښتناکه ونډه نه اخلي .

په اسلامي تصوف او عرفان کې، د تقلید ښتنتان هغه څوک دي، چي ددیني او عرفاني پوهي د نه لرلو په وجه د سم او ناسم تر منځ د توپیر کولو وس نه لري؛ د دین او ایمان په چارو کې، د ړندو په شان د نورو پیروي کيي؛ او زیاتره د ناوړه دودو اوخرافاتو په پردو کي نغښتي یي . مُقلدان یا پیښنه ګران تل د اوبو پرسر لامبو کيي؛ ځکه نو همېشه له ځګو ، کوبیبو، خس او خاشاک سره لاس وګرېوان یي . ښکاره ده، چي داسي کسان د دریاب له مستو او رڼو ځپو، د ډول ډول مرغلرو او مرجانو، د بېلابېلو عجایبو او مخلوقاتو له ننداري څخه بې برخي دي . په داسي حال کي، چي حقیقتونه او پټ رازونه تل په پردو کي نغښتي دي . حقایقو او اسرارو ته تر رسېدو پوري اوږدې لاري او واټونه پراته یي . که د دې اوږدو مزلو و ستړیاوو او خواریيو ته غاړه کښې نښول سي، بیا نو د حقیقت انوار او پلوشي هم هیڅکله تر سترګو نه رارسیږي .

خوږ ژبي عرفاني لاربنود - شیخ عزیزالدین بن محمد نسفي ( ۶۳۰ - ۷۰۰ هـ ق ) په خپل مشهور عرفاني اثر « کشف الحقایق۳ » کي، تقلید د انسان د بلوغ او کمال په څلورو درجوکي، تر ټولو لومړۍ درجه ګڼلي ده . شیخ نسفي د بلوغ او کمال دا څلور ډولونه داسي شمېري :

« لومړی د اسلام بلوغ دئ، چي د تقلید او انقیاد مقام دئ . په دې مقام کي، سالک پر ژبه وایي خدای یو دئ .

دوهم د ایمان بلوغ دئ، چي د استدلال او پوهي مقام دئ . په دې مقام کي، سالک په زړه کي خدای یو ګڼي .

دریم د باور او یقین بلوغ دئ، چي د ډاډ او ارام مقام دئ . په دې مقام کي، ګویا سالک خدای یو ویني .

څلرم د عیان بلوغ دئ، چي د حجابو او پردو د ایسته کولو مقام دئ . په دې مقام کي، سالک خدای تعالی یوګوري۴ . »

زموږ مدقق او محقق عارف، علي محمد مخلص، په یوه غزله کي قرآن مجید د اعراف د سورې د یوسلونه اویایم آیت ( ۷ : ۱۷۹ ) د یوې برخي « . . . اولئک کاالانعام بل هم اضل اولئک هم الغفلون » له مخي هغه بې پوهي او بې فکره پیښې کوونکي د حیواناتو په څېر ګڼي، چي تل د ړندو په شان، په دود او جال پسي ګرځي :

عام یقین که چي خدای . . . رسـول . . . دئ ۵
د بزرګانو په تقلید یي اینښی ګـام دئ
دوی ړانده دي عصاکښه کـاملان شـوه
هر سړی بې عِلم و فکره کاالانعام دئ

په یوه بله غزله کي، د تقلید ایمان ته د شک او ګومان ایمان په سترګه ګوري؛ او د تحقیق ایمان د یقین او باور ایمان ګڼي . له دې امله، مؤمنانو ته سپارښتنه کيي، چي ستر ګي پرانیزي؛ او د عرفان په تر لاسه کولو سره، خپل نړۍ لید روښانه کړي؛ سم او ناسم سره بېل کړي؛ د ناپایه ریاضتو او مجاهدو په مرسته، د زړه په سترګو، پټ حقیقتونه ووینې :

که کافر یي د ایمان په لوري کوږه !
که مؤمن یي د عرفان په لوري کوږه !
له تقلیده و تحقیق وته روان شــه
له ګومانه د ایقان په لــوري کوږه !

د تقليد ايمان له شکه خالي نه دئ
ته له شکه د عيان په لوري کوږه !
بې ليدو د زړه يقين پر اشيـأ نشي
اوس له غيبه د اعلان په لوري کوږه !
له مجازه حقيقت لره ور درومــه!
په دا لاره د يزدان په لـــوري کوږه !

مخلص، په يوه غزله کې د ظاهري او رسمي علومو مقلدانو ته خبرداری ورکيي، چې د خپلي تقليدي پوهي په مرسته به هيڅکله د يار مخ و نه ويني . په بله ژبه، د حقيقي ميني او رينتيني وصال دپاره بايد د زړه لار خپله کړي؛ او هرڅه د زړه په سترګو وګوري :

په دا عِلم، معرفت څه له نــازېږي !
په تقليد به روزي نه کړي يار غـار ته !
بې ليده د زړه يقين نشي باورکــړه !
په دُنيا کښي نن حاصل کړه د شه يار ته !
په جهان کښي د حق ديد د زړه په سترګو
پس له مرګه به دوست ويني اظهــار ته !

د مخلص له عرفاني نړۍ ليد سره سم دخاصو يا ځانګړو موحدينو دله د توحيد هغه لارويان دي، چې د عامو خلګو پر خلاف، په خپلو کړو وړوکي، پر استدلال او منطق تکيه کيي . هغوی استدلال، عقلي او فکري مناظره، د حقيقتو د کشف او بيانولو، تر ټولو غوره او ارزښتناکه لار ګني . شک نسته، چې منطق، علمي او عقلاني استدلال ټول له پوهي او تعقل څخه را پيداکيږي . منطقي پوهه، تعقل او بصيرت که کولای سي له عرفاني سالکانوسره، د حقيقتو په بربنډولو او پوهيدوکي تر لوړي ګچي مرسته وکړي؛ خو له دې ځرګند واقعيت څخه هم هيڅکله سترګي نسي پټېدای، چې د توحيد د لاري پلټونکي په خپلي پوهي، ذکاوت اواستدلال سره هم ، ددې ناپايه او پېچلوکايناتو، ديوې کوچنی مُعما د پېژندلو او هوارولو، وس نه لري . مخلص، په داسي حال کي چي د حقيقتو په پېژندلو او بربنډولو کي د پوهي، تعقل، منطق، استدلال، علمي او فکري مناظرو پر ارزښتناکي ونډې پراخي خبري کيي؛ خو په پای کي له دې واقعيت څخه هم انکار نه کيي، چې پوهه او تعقل، منطق او استدلال په يوازيتوب سره نسي کولای د انسان، کايناتو او الهي ذات پټ حقيقتونه وپېژني . داسي کسان له خپلو ټولو علمي او عقلي برياوو سره سره ، د حقيقت موندني په ناپايه بحرو او اسمانو کي سرګردانه او لالهانده غوټي وهي . هغه، په يوه غزله کي د د ليل او استدلال د ښتنانو، بې وسی او کمزورۍ ته داسي ګوري :

عوام خلک تقليدي، خاص دليلي شــه
د دليل ښېتن غايب له ذوالانـام دئ
د دليل د اهل پښي چوبين يادشــوي
په چوبينو پښو رفتن په ډېر ناکام دئ

مخلص، د تحقيق ايمان د رينتيني توحيد ايمان بولي . د ده په اند، د يقين او باوردې ايمان ته رسېدل، يوازي هغه مهال ممکن دي، چي مؤمن د شريعت، طريقت، حقيقت، معرفت، قربت او وصلت شپږ مقامونه په برياليتوب او متانت سره تېرکړي؛ او په پای کي د وحدت ناپايه او بې ساري مقام ته ورسيږي . د وحدت پر مقام

موحد عارف د « فنأ في الله بقأ بالله » ، «موتوا قبل ان تموت» یا «تخلقوا باخلاق الله» په تحقق سره پر نورو پردو او حجابو سربېره، د ځان له حجابه هم خلاصیږي؛ او په دې ډول یوازې یو ذات، یو وجود او یوه هستي ګوري :

عام عالَم ددې خاصانو توحید زده کــــه
بې دلیله یقین سپک هر ګوره خــام دئ
واړه عِلم د توحید دپاره شــوی
دا نورعِلم پېتکی ، توحـید پاس بام دئ
شریعت، طریقت بــل حقیقــت ګوره !
معرفت، قربت، وصلت شپږم مقــام دئ
چې دا شپږ مقامه طی نـــه کړي باور کړه !
تر توحیده به ورنه شي د االعـلام دئ

د مخلص په عرفاني نړۍ لید کې، معرفت او عرفان ته د ایمان د لمر په توګه، ځانګړی مقام ورکړل سوی دئ . ناسمه به نه یي، که ووایو چې د مخلص ټوله شاعري په حقیقت کې د عرفان پر محور را ګرزي . هغه په ډېرو غزلوکې، بې عرفانه عبادت ته نه یوازې د جال او رواج په سترګه ګوري؛ بلکې د اسلام د ستر پېغمبر، حضرت محمد ( ص ) ، له وياړلي لاري څخه یې هم انحراف بولي :

بې عرفانه عبادت رسم، عادت دئ
ته پر لاري د عادت په سرعت مه ځه
بې عرفانه عبادت کُل ناقبول دئ
د سرور نبي له امره غلــت مه ځه

***

بې عرفانه عبادت ناقبـول ګوره !
کُل سجده دې په باطن ده و شیطان ته
د صـفات په معرفت مه هوسېږه !
ځود ځان عرفان دې نه وي وجانان ته

د نور مالومات دپاره وګورئ : پوهه او عقل ، توحید او د هغه ډولونه ( عام، خاص او خاص الخاص توحید)، معرفت او عرفان .

**لمنلیکونه**

١ عمید١: ٧١١ – ٧١٢ ؛ Wehr 786.
٢ عمید ١ : ۶۵١ ؛ Wehr 192.
٣ د « کشف الحقایق » لیکوال، د خطي نسخي د کاتب د تېروتني له مخي عبدالعزیز لیکل سوی دئ؛ په داسي حال کي چي شیخ نسفي په خپل لورعرفاني اثر « انسان الکامل » کي خو ځایه خپل نوم عزیزالدین کښلی دئ .د « کشف الحقایق » سموونکي ( دکتر احمد مهدوی دامغاني ) هم په خپله سریزه کي، دې ټکي ته اشاره کړې ده؛ خو سره له دې یي هم د ناسخ تېروتنه پرځای پرېښې ده .

۴ نسفی، کشف الحقایق ۱۲۵ .

۵ په دې میسره کې، د تشو ځایو ټکي نه لوستل کیږي . ښايي دا ټکي داسي ولوستل سي : عام یقین که چي خدای یو رسول برحق دئ . یا عام یقین که چي خدای یو رسول يي حق دئ . والله و اعلم بالصواب .

پاته لري